ورځپاڼه
هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
شنبه د رمضان المبارک ۱۵ مه ۱۴۴٦ ق کال، د کب ۲۵ مه ۱۴۰۳ ل کال، دمارچ ۱۵ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه۵٦۸ مه، پرله پسې ګڼه٦۵۸ مه، اتمه دوره

امارت اسلامی افغانستان
وزارت ارشاد، حج و اوقاف
اوقات افطار و سحری ولایت کابل

رمضان	پانزدهم
ایام	شنبه
تاریخ	۱۴۰۳/۱۲/۲۵
افطار	٦:۵
عشاء	۷:۲٦
ختم سحری	٤:۳۳
آذان فجر	٤:۳۸

د بهرنیو چارو وزارت:
پاکستاني چارواکي دې د تورونو لګولو پرځای د خپلو داخلي ستونزو حل ته پام وکړي

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان هغه ادعا په کلکه رد کړه، چې ګواکې د پاکستان د حکومت مخالفې ډلې په افغانستان کې شتون لري. د یاد وزارت ویاند عبدالقهار بلخي د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي: ((په بلوچستان کې پر مسافر وړونکي اورګاډي د برید په تړاو د پاکستاني پوځ د ویاند هغه بې‌اساسه تورونه، چې د پېښې تړاو افغانستان سره لګوي، په کلکه ردوو.)) په خبرپاڼه کې له پاکستاني لوري غوښتنه شوې، چې د داسې غیرمسؤولانه څرګندونو پر ځای خپل امنیت او د داخلي ستونزو حل ته پام وکړي. سرچینې زیاته کړې: د هېڅ بلوخ مخالفې ډلې غړي په افغانستان کې ... ۳مخ

د بهرنیو چارو وزیر د عمان سلطنت د دفتر له وزیر سره وکتل

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي عمان ته د سفر په ترځ کې د یاد هېواد د سلطان د دفتر له وزیر، د سوداګرۍ او پانګونې خونې مشرانو او د اوقافو او دیني چارو وزیر سره جلا جلا لیدنې کړې دي. مولوي امیر خان متقي د عمان د سلطان د دفتر له وزیر څخه غوښتي، چې په عمان کې بندي افغانانو ته د بند د مودې کمولو او خلاصون برخه کې مرسته وکړي او د مېشتو افغانانو د کونسلي ستونزو د حل لپاره له افغان سفارت سره همکار پاتې شي. ښاغلي متقي د عمان د اوقافو او دیني چارو له وزیر څخه غوښتي، چې له اسلامي امارت سره ... ۳مخ

د واخان سړک د دویمې برخې د جوړولو تړون لاسلیک شو

د واخان سړک د دویم فاز جوړولو تړون وړمه ورځ د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د لاسلیکولو پر مهال وویل ،چې تېرو دولتونو واخان ته هېڅ پاملرنه نه وه کړې او د

او افغان صداقت خصوصي شرکت تر منځ لاسلیک شو. د یاد وزارت سرپرست ملا محمد یونس اخوندزاده د یاد تړون دغې سیمې اوسېدونکي له تولو اړینو اسانتیاوو؛ لکه ښوونځي، روغتون، سړک او مخابراتي خدماتو څخه ... ۳مخ

د ترکیې سفیر:
له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې د همکاریو هڅه کوو

کابل کې د ترکیې سفیر وایي: هېواد یې هڅې کوي ،چې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې همکارۍ ولري. نوموړي کابل کې په یوه پروګرام کې زیاته کړې، چې د افغانستان او ترکیې تر منځ اړیکې تل په دواړو هېوادونو کې له سولې او ثباته د ملاتړ پر بنسټ ولاړې دي او ښه تاریخي مخینه هم لري. کابل کې د ترکیې سفیر، جنک اونال وویل: ((لکه څنګه چې یادونه وشوه، د افغانستان او ترکیې اړیکې

ښه تاریخي مخینه لري او دا اړیکې د دواړو هېوادونو د سولې، ثبات او سوکالۍ پر رښتیني ملاتړ ولاړې دي. زموږ حضور دلته یوازې د سفارت یا کونسلګرۍ ... ۳مخ

پکتیا کې د ۳ پروژو چارې پیل شوې

د ګردېز ښاروالۍ مسؤلین وایي چې د (یو.ان) هبیتات په مالي ملاتړ د ۱۵۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت د درېوو پرمختیایي پروژو چارې پیل شوې دي. د ګردېز ښاروال مولوي حبیب الرحمن منصور باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې په دې پروژو کې دوه آر.سي.سي کانکریټي ویالې چې هره ویاله ۳۵۰ متره اوږدوالي، ۸۰ سانتي متره سور او یو متر لوړوالي لري او د یوې د اوبو رسولو شبکې جوړول شامل دي، چې پر مټ به یې د ښار اړوندو ۱۱۰ کورنیو ته د څښاک اوبه ورسېږي. د سیمې اوسېدونکو د دې پروژو د پیل... ۳مخ

هند د افغانستان په بیارغونه کې د قزاقستان د ګډون پر ملاتړ ټینګار وکړ

هند د افغانستان په اقتصادي بیارغونه کې د قزاقستان د فعال ګډون پر ملاتړ ټینګار کړی دی. د هند د نړیوالو مطالعاتو

د موسسې رئیس د قزاقستان د ستراتېژیکو مطالعاتو د مرکز له لوري په جوړه شوې غونډه کې دغه راز د افغان- ترانس پروژې او د چابهار بندر د پراختیا لپاره د دواړو هېوادونو د ګډون پر اړتیاوو هم ټینګار کړی دی. د قزاقستان د ستراتېژیکو مطالعاتو مرکز په یوه خبرپاڼه کې ویلي: ((ښاغلي سجانهر په ځانګړې توګه د افغانستان د اقتصادي او بنسټیزې بیارغونې ... ۳مخ

د میدان‌وردګو د پوهنې ریاست سره مرسته وشوه

د میدان‌وردګو د پوهنې ریاست چارواکي وایي، چې د دې ولایت په دایمیرداد ولسوالۍ کې ولسي وګړو له ۹ ښوونځیو او دیني مدرسو سره د نږدې یو میلیون افغانیو په ارزښت مرسته کړې ده. د دغه ولایت د پوهنې رئیس مولوي محمدعثمان حریت جوړې شوې غونډې ته وویل: د پوهنې بهیر سره د ولس له لوري په دایمیرداد کې شوې مرسته باندې یوشمېر ښوونځیو ته وسایل اخیستل شوي او د ښوونځیو او دیني مدرسو مهمې برخې یې بیارغولې دي. نوموړي وویل: له پوهنې سره د ولس مرسته خورا مهمه ده... ۳مخ

اسلامي امارت د افغان کډوالو د دایمي ستونزو د حل په لټه کې دی

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر مولوي عبدالکبیر په او ورسره مل پلاوي سره لیدنه کړې. په دې لیدنه کې چې د افغان

افغانستان کې د کډوالو نړیوال سازمان له مرستیالې موتیا مسکون کډوالو او داخلي بېځایه شویو پر وضعیت خبرې شوې... ۳مخ

د افغانستان او ایران ترمنځ مسافر وړونکي اورګاډي فعالیت پیلوي

د ایران د سړکونو او ښاري پراختیا وزارت په نږدې راتلونکې کې د افغانستان او ایران ترمنځ د خواف-هرات په لاره کې د مسافر وړونکي اورګاډي د فعالیت د پیل خبر ورکړی دی. د ایران د سړکونو او ښاري پراختیا وزارت مرستیال جبار علي ذاکري لا وړمه ورځ د ایران یوه خبري اژانس ته ویلي چې له روزنک څخه تر هرات پورې د اورګاډي پټلۍ د جوړولو په حال کې ده او کله چې بشپړه شي، نو د مسافر وړونکي اورګاډي پټلۍ به هم فعاله شي. د ((ښه خبر دا دی، چې ډېر ژر به ایران د خواف-هرات

ایران د اسلامي جمهوریت دغه چارواکي زیاته کړه: د اورګاډي لارې له لارې د افغانستان خلکو ته... ۳مخ

هرات کې د ۲ کورنیو ترمنځ روغه وشوه

د هرات د سرحدونو قومونو او قبایلو چارو ریاست سیمه ییز چارواکي وایي، چې د دې ولایت په ګذرې ولسوالۍ کې د دوو کورنیو ترمنځ له ۱۵ کلنې دښمنۍ وروسته روغه جوړه شوې ده.
د هرات د سرحدونو قومونو او قبایلو چارو سره د جرګو او همغږۍ عمومي مدیر مولوي عبدالرحیم وایي ،چې په یاد ولایت کې د علیزایي قومونو ترمنځ ۱۵ کلنه دښمني چې په کې له دواړو لورو څخه څو تنه مړه شوي وو، د سیمه ییزو مسئولینو ... ۳مخ

زابل کې د اداري کمپلکس د جوړولو چارې پیل شوې

د کورنیو چارو وزارت له لوري د ۳۲.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د زابل ولایت د مقام د اداري کمپلکس د جوړېدو چارې وړمه ورځ پیل شوې. د زابل ولایت مرستیال مولوي محب الله حماس وایي، چې د کورنیو چارو وزارت په مالي ملاتړ پر ۱۲۹۰ متره مربع ساحه کې اداري کمپلکس په دوو پوړونو کې جوړېږي، چې ۳۲ اداري خونې او نور ضروري ملحقات به ولري.
ده زیاته کړې ،چې د دې ودانۍ د جوړولو لګښت د کورنیو چارو وزارت له پراختیایي بودیجې څخه تمویلېږي... ۳مخ



جرمني شرکت له افغانستان سره د سړک جوړولو برخه کې پانګونه کوي

یو جرمني شرکت د سړک جوړولو په برخه کې د ۴۰۰ میلیونو ډالرو پانګونې لپاره خپل چمتووالي اعلان کړ. د جرمني «ټرسټکو مډل‌ایسټ» شرکت مشر محمد درخشان د ټولګټو وزارت سرپرست ملا محمد عیسی ثاني سره په یوه کتنه کې په افغانستان کې د سړک جوړولو په برخه کې د ۴۰۰ میلیونو ډالرو پانګونې لپاره خپل چمتووالي اعلان کړ. د ټولګټو وزارت ویاند محمد اشرف حق‌شناس وړمه ورځ ویلي،چې پورته ذکر شوي شرکت به دا پانګونه د هېواد د کانونو په بدل کې وکړي. له بلې خوا د ټولګټو وزارت سرپرست ... ۳مخ

افغانستان هېچا ته گواښ نه دی!

له نږدې نیمې پېړۍ جگړو، بحرانونو او ناامنۍ وروسته، افغانستان بالاخره د ثبات، امنیت او پرمختگ پر لور گامونه اخلي. د اسلامي امارت په راتگ سره، د جگړې اور مړ شوی، سوله ټینگه شوې، او هېواد د اقتصادي خپلواکۍ، پراختیا او ثبات په لور روان دی. خو دا پرمختگونه د ځینو نړیوالو او سیمه‌ییزو کړیو لپاره د زغملو نه دي. همدا لامل دی چې دوی د خپلو سیاسي او اقتصادي گټو د خوندي کولو لپاره هڅې کوي، څو افغانستان یو ځل بیا ناامنه کړي.

په دې وروستیو کې، د افغانستان گاونډي هېواد کې د ناامنۍ پېښې وشوې، چې گوته یې په بې‌اساسه ډول افغانستان ته ونیول شوه. دا تورونه نه یوازې غیرمنطقي دي، بلکې له حقیقت سره هېڅ اړیکه نه لري. اسلامي امارت له پیل څخه څرگنده کړې چې د هېڅ هېواد پر ضد د تخریبي فعالیتونو ملاتړ نه کوي، بلکې متقابل احترام، همکارۍ او د ښه گاونډیتوب سیاست ته ژمن دی.

د افغانستان د اوسني نظام ستر تمرکز پر داخلي ثبات، اقتصادي پراختیا او له نړۍ سره د رغنده تعامل پر بنسټ ولاړ دی. له همدې امله، دا ناشوني ده چې افغانستان دې د کوم بل هېواد د بې‌ثباتۍ لامل شي، په داسې حال کې چې خپله د سولې، امنیت او پرمختگ په مسیر کې روان دی.

د نړیوالو استخباراتي لوبو تجربې ښیي، چې تل د هغو هېوادونو پر ضد دسیسې جوړېږي چې د بهرنیانو له تسلط څخه د خلاصون هڅه وکړي. د افغانستان خپلواکي او د سیاسي او اقتصادي انحصار ماتول د ځینو هېوادونو گټې زیانمنوي، نو دوی هڅه کوي چې افغانستان بدنامه او منزوي کړي او د نړیوالو تر فشار لاندې یې راولي.

له بلې خوا، د سیمې ځینې هېوادونه د افغانستان پر موجود امنیتي وضعیت باور نه لري او نه غواړي چې یو باثباته افغانستان راښکاره شي. ځکه دوی پوهېږي، چې یو پرمختللی، امن او خپلواک افغانستان به د سیمې د سیاسي، اقتصادي او ستراتېژیکو معادلو په بدلون کې مهم رول ولوبوي.

افغانستان باید له دغو دسیسو سره هوښیارانه چلند وکړي. د نړیوالو دسیسو او تبلیغاتو د اغېزو کمولو لپاره لاندې اقدامات ضروري دي:
فعاله ډیپلوماسي: له نړیوالو سره د متقابل احترام پر اساس اړیکې، د افغانستان د سیاست روښانه بیانول ... ۳مخ

روابط دوجانبه افغانستان و عمان؛ فصل جدید همکاری‌ها

رحمت‌الله فیضان

در سیاست بین‌الملل، روابط میان دولت‌ها که بر اساس احترام متقابل و منافع مشترک استوار باشد، اساس مهم سیاست خارجی هر کشور را تشکیل می‌دهد. امارت اسلامی افغانستان از زمان به‌دست‌گرفتن قدرت تلاش کرده است تا روابط متوازن، فعال و مبتنی بر همکاری را با کشورهای منطقه و جهان برقرار کند. در همین راستا، سفر مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجه افغانستان، به عمان از اهمیت خاصی برخوردار است، زیرا نه‌تنها زمینه‌های جدیدی را برای توسعه روابط سیاسی، اقتصادی و اجتماعی بین دو کشور فراهم می‌کند، بلکه گامی مهم در جهت تثبیت جایگاه بین‌المللی افغانستان نیز محسوب می‌شود.

مولوی امیرخان متقی وزیر امور خارجه افغانستان، در مسقط با بدر بن حمد البوسعیدی، وزیر امور خارجه سلطنت عمان، دیدار کرد. این دیدار که نشانه‌ای از تداوم تعاملات سیاسی است، مرحله جدیدی از روابط دوجانبه را میان دو کشور رقم می‌زند. بی‌تردید، چنین تعاملات دیپلوماتیک نه‌تنها از انزوای بین‌المللی افغانستان جلوگیری می‌کند، بلکه به ایجاد فضای اعتماد و گسترش همکاری‌های سیاسی نیز کمک شایانی می‌کند.

در این نشست، طرفین درباره تقویت روابط دوجانبه سیاسی، اقتصادی و اجتماعی به‌طور مفصل بحث و تبادل نظر کردند. وزیر امور خارجه افغانستان بر اهمیت ایجاد روابط متوازن با

کشورهای منطقه و جهان تأکید کرد و سیاست صلح‌آمیز و مبتنی بر احترام متقابل را اصل اساسی سیاست خارجی افغانستان دانست. از سوی دیگر، وزیر امور خارجه عمان تأکید کرد که کشورش همواره از ثبات، رفاه و توسعه افغانستان حمایت کرده و خواهان گسترش روابط خود با این کشور است.

علاوه بر روابط دیپلوماتیک، همکاری‌های اقتصادی بخش اساسی سیاست خارجی هر کشور را تشکیل می‌دهد. افغانستان پس از دهه‌ها جنگ، اکنون در تلاش است تا اقتصاد خود را بازسازی کند، سرمایه‌گذاران را جذب نماید و فرصت‌های تجاری خود را گسترش دهد. وزیر امور خارجه افغانستان از عمان خواست که به تسهیل تجارت دوجانبه، صادرات افغانستان، فراهم‌آوردن فرصت‌های سرمایه‌گذاری برای سرمایه‌گذاران عمانی و تسهیل صدور ویزا توجه ویژه داشته باشد.

عمان که یکی از مراکز مهم اقتصادی در منطقه خلیج محسوب می‌شود، می‌تواند شریک تجاری مهمی برای افغانستان باشد. توسعه روابط تجاری بین دو کشور این امکان را فراهم می‌کند که تاجران افغان محصولات خود را از طریق عمان به بازارهای جهانی صادر کنند. علاوه بر این، گسترش همکاری‌های اقتصادی، فرصت‌های مشترک بیشتری را برای هر دو کشور ایجاد خواهد کرد، به‌ویژه در زمینه امنیت غذایی، تجارت و سرمایه‌گذاری.

وزیر امور خارجه افغانستان از طریق این سفر پیامی روشن به جهان فرستاد که امارت اسلامی خواهان روابط مبتنی بر احترام متقابل و همکاری با جامعه بین‌الملل است. در همین راستا، وزیر امور خارجه عمان نیز حمایت خود را از پیوستن افغانستان به جامعه جهانی ابراز کرد که این امر نشان‌دهنده پذیرش تدریجی نقش جدید افغانستان در عرصه بین‌المللی است.

در سیاست بین‌الملل، کشورهایی از جایگاه و احترام بیشتری برخوردارانـد که به اصول حاکمیت ملی سایر کشورها احترام بگذارند، با همسایگان و کشورهای منطقه روابط حسنه برقرار کنند و به اصول تعامل متقابل پابند باشند.

گسترش همکاری‌های سیاسی و اقتصادی میان افغانستان و عمان نه‌تنها برای هر دو کشور مفید خواهد بود، بلکه گام مهم در جهت ارتقای اعتبار بین‌المللی افغانستان نیز محسوب می‌شود.

سفر مولوی امیرخان متقی از نظر سیاسی، اقتصادی و دیپلوماتیک یک گام مهم برای افغانستان به شمار می‌رود. این دیدار نشان داد که افغانستان منزوی نشده، بلکه تلاش دارد از طریق سیاست خارجی متوازن، تعامل خود را با جهان گسترش دهد.

سلطنت عمان که به دلیل سیاست معتدل خود با کشورهای منطقه و جهان روابط حسنه‌ای دارد، می‌تواند نقش ارزشمندی در گسترش همکاری‌های دیپلوماتیک، اقتصادی و تجاری با افغانستان ایفا کند. نتیجه این سفر آن شد که هر دو کشور متعهد شدند برای گسترش همکاری‌های دوجانبه تلاش کنند تا روابط مبتنی بر منافع مشترک بیش از پیش تقویت شود.

درود به شهدای ۲۴ حوت سال ۱۳۵۷ خورشیدی

عزیزی

خیزش تاریخی ۲۴ حوت سال ۱۳۵۷ خورشیدی شهریان هرات باستان، یکی از حماسه های بزرگ در تاریخ زرین و درخشان مردم سلحشور و آزادی خواه کشور ما بود.

این قیام خود جوش مردمی و مبارزات مردم مسلمان افغانستان آغاز گر قیام ها علیه زور گویان و جباران ملحد بود، این روز به عنوان عظمت و جلال ملت مؤمن ما و مایه افتخار همه نسل های خدا پرست افغان در گذرگاه تاریخ کشور است. قیام غرور آفرین و حماسه ساز ۲۴ حوت در هرات باستان گرانبها ترین خاطره ایست که بطور جاودانه در صفحات تاریخ کشور ما باقی خواهد ماند، سلحشوران قهرمان این مرزوبوم با قیام همگانی و یورش دلیرانه شان علیه ظلم، بی عدالتی وتجاوز حکمرانان آن وقت کشور ایستادند. مردم قهرمان و دلاور افغانستان در طول تاریخ به خاطر حفظ و دفاع از آزادی کشور خود از یک سو و از جانب دیگر برای رفع نابسامانی ها و مشکلات زندگی شان به مبارزه و پیکار برخاسته و از حقوق حقه شان به دفاع پرداخته اند و نمی گذارند دست ستم و استبداد بر گلوی شان حلقه زند و زندگی شان را با مخاطره مواجه سازد.

آنچه بر این ادعا مهر تأیید میگذارد قیام ها و رشادت های این ملت پا برهنه است که در سالهای تجاوز قوای سرخ اتحاد جماهیر شوروی وقت و همچنان علیه اشغالگران امریکا و هم پیمانان آنها در هر منطقه و هر ولایت این سرزمین از خود نشان دادند و برای دفاع از دین و نوامیس ملی کشور خویش در حالی که هیچگونه امکانات مادی و نظامی در دست نداشتند، به قربانگاه ها شتافتند و حماسه آفریدند. قبل از قیام مردم هرات در سال ۱۳۵۷ خورشیدی قیام هایی در مقابل ارتش سرخ اتحاد جماهیر شوروی وقت و کودتاچیان و جوشش های مردمی در گوشه و کنار کشور همانند بدخشان، کامدیش، دره پنجشیر، کنر، دره صوف و ځدران صورت گرفته بود. در این قیام ها فرزندان راستین افغانستان با دست خالی و دل مملو از عشق به الله(ج) سینه های خویش را سنگ فرش تانک های زرهدار دشمنان این وطن نمودند. در نتیجه چنین خیزش های ملی و مبارزه مسلحانه در برابر تجاوز و اشغال، ملت های در بند کشیده از حاکمیت حزب کمونیست اتحاد جماهیر شوروی وقت به استقلال خود دست یافتند.

این مردم افغانستان بودند که با قیام های مسلحانه خویش وبا دادن میلیونها شهید و زخمی خدمت بزرگی برای صلح و امنیت جهانی انجام دادند.

در قیام ۲۴ حوت هزاران انسان بی گناه توسط حکومت دست نشانده سر به نیست شدند و تعدادی هم زنده به گور گردیدند و در نتیجه این قیام ها دلاوران و سنگرداران عزیز کشور ما قربانی های فراوانی به پیشگاه خدا و وطن اهداء کردند. ولی برجستگی و خصوصیتی که قیام خونین هرات داشت این بود که مبارزان خدا جوی آن خطه با دستان خالی مبادرت به قیام کردند. انصافاً چنین حادثه خونین که در اوایل جهاد در هرات رخ داد ممکن در آن زمان در دیگر مناطق کشور با چنان ویژه گی یی کمتر اتفاق افتاده باشد. چون در ظرف چند ساعت بیش از... ۳مخ

د فتنو پېژندنه او د هغو مخنیوی

محمد قاسم عزام

فتنه هغه حالت دی چې د امت ترمنځ گډوډي رامنځته کوي، حق له باطل سره گډېږي او مسلمانان د ناسمو تعبیرونو ښکار کېږي. فتنې د فکري انحراف، اجتماعي گډوډۍ او سیاسي ستونزو لامل گرځي، چې اسلامي ارزښتونو او د امت وحدت ته زیان رسوي. دا ستونزې له دوو مهمو برخو سرچینه اخلي: داخلي عوامل، لکه ناپوهي، ځان‌غوښتنه او د دین ناسم تعبیر؛ او خارجي عوامل، لکه د بهرنیو قوتونو فکري، سیاسي او اقتصادي یرغلونه. د فتنو د مخنیوي لپاره ضروري ده چې اسلامي امت خپل عقیدوي اصول وپېژني، د علم پر اساس فیصله وکړي او د قرآن او سنتو لارښوونو ته مراجعه وکړي.

د عقیدوي فتنو تاریخ او معاصر مثالونه

د اسلامي تاریخ په اوږدو کې عقیدوي فتنې د امت د کمزورۍ، داخلي نفاق او د اسلامي حکومتونو د زوال یو مهم لامل پاتې شوې دي. د دین ناسم تعبیر، سیاسي قدرت ته تمایل او فکري انحراف داسې عوامل وو، چې د امت یووالي ته یې جدي زیانونه واړول. د اسلام له لومړیو کلونو څخه ځینو ډلو د قرآني نصوصو او نبوي سنتو ناسم تفسیر ته مخه وکړه، چې له امله یې د خوارجو، معتزلـه، مرجئه او جهمیه په څېر منحرفې ډلې پیدا شوې. د خوارجو فتنه د اسلامي امت لپاره له سترو ازموینو څخه وه، ځکه چې دوی د دین د ظاهري احکامو سخت تعبیر کاوه، گناهگار مسلمانان یې تکفیرول او د خپلو سختو عقایدو د تطبیق لپاره یې وسله وال مخالفت ته مخه وکړه، چې د اسلامي حکومتونو د کمزورۍ لامل وگرځېده. د معتزله فتنه، برعکس، د یوناني فلسفې تر تأثیر لاندې د عقل مطلق حاکمیت ته زمینه برابره کړه، د شرعي نصوصو تعبیر یې د عقل معیار ته تابع کړ او د دیني نصوصو ظاهري معناوې یې د عقلي تحلیل قرباني کړې. د مرجئه فتنې، چې له دې دواړو سره توپیر درلود، دا باور خپور کړ چې ایمان یوازې د زړه مسئله ده او گناهونه د انسان د ایمان اصل ته ضرر نه رسوي، چې دې فکر د شریعت د عملي تطبیق روحیه کمزورې کړه. د دې فتنو انعکاسونه اوس هم په معاصر وخت کې لیدل کېږي، ځکه چې د خوارجو تفکر د ځینو سخت دریځو ډلو له لوري بیا راژوندی شوی، چې د اسلامي نصوصو سخت تعبیر وړاندې کوي او د مسلمانانو د تکفیر لړۍ ته دوام ورکوي. د معتزله فکر په نوې بڼه د هغو کسانو له لوري تعقیبېږي، چې دیني نصوص د مادیت او فلسفي تعبیرونو له مخې ارزوي او د دین اساسي اصول د عقل تابع کوي. همدارنگه، د مرجئه فکر اوس هم د هغو کسانو له لوري تعقیبېږي، چې د دیني احکامو عملي کول یوازې د زړه مسئله بولي او د اسلامي شریعت د اجتماعي اړخ له پامه غورځوي. دا ټول فکري انحرافات د اسلامي امت د فکري ثبات د کمزورۍ کېدو او د یووالي د له منځه تلو سبب شوي او د حل یوازینۍ لاره یې دا ده چې د اسلام اصلي تعلیمات زده شي، د قرآني او نبوي نصوصو صحیح تفسیر وشي، او مسلمانان د فتنو د پېژندلو او مخنیوي وړتیا ترلاسه کړي.

خارجي او داخلي فکري یرغلونه د مسلمانانو پر فکري استقلال د بهرنیو او داخلي یرغلونو ناوړه اغېزې لیدل کېږي. بهرني قوتونه د فکري استعمار له لارې هڅه کوي چې د مسلمانانو فکري نظام بدل کړي، اسلامي ارزښتونه کمزوري کړي او د لوېدیځو ایډیالوژیو ترویج ته زمینه برابره کړي. د رسنیو، تعلیمي نظام، اقتصادي سیاستونو او فرهنگي یرغل له لارې دا هڅې کېږي چې مسلمانان د خپل دین له اساسي اصولو واړول شي. نړیوال طاقتونه، سیاسي قوتونه او نړیوالې مؤسسې په شعوري ډول هڅه کوي چې د اسلامي هویت بنسټونه متزلزل کړي او مسلمانان له داسې فکري انحراف سره مخ کړي چې هغوی د خپلو دیني ارزښتونو د ساتلو پر ځای د پردیو فکرونو مقلد شي. د تعلیمي نصاب بدلون، د رسنیو له لارې د غربي ژوند ستایل او د اقتصادي تړونونو په وسیله د مسلمانانو اقتصادي خودکفایي کمزوري کول، ټول هغه وسایل دي چې د بهرني فکري یرغل لپاره کارول کېږي. د داخلي فکري یرغل بله جدي ستونزه دا ده، چې د ځینو منحرفو اشخاصو له لوري رامنځته کېږي. ځینې د مادي دنیا غوښتنې او له شریعت څخه فاصله مهمه بولي، چې نتیجه یې د اسلام د عملي کولو نهیلي کېدل دي او ځینې بیا افراطیت ته مخه کوي، چې نتیجه یې تکفیر، تاوتریخوالی او د اسلامي اصولو سخت تعبیر دی. دواړه انحرافونه د امت لپاره خطر دي، ځکه چې یو د اسلامي تمدن د ویجاړۍ لامل کېږي او بل د اسلامي اصولو ناسم انځور وړاندې کوي. د دې یرغلونو مخنیوی یوازې هغه وخت ممکن دی چې مسلمانان خپل دین د صحیحو شرعي اصولو له مخې زده کړي... ۳مخ

د کابل ښار (۵) مي ناحيې اړوند په کوټه سنګي کې د نظيف مارکيټ يو باب دوکان د داوطلبۍ خبرتيا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست غواړي چې د کابل ښار (۵) مي ناحيې اړوند په کوټه سنګي کې د نظيف مارکيټ يو باب (B-۲۱) نمبر دوکان چې (۷۵.۳۷) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (۴٦۰۰۰) افغانۍ ده د داوطلبۍ له لارې د يو کال لپاره اعلان ته وړاندې کوي.

د جي پي اس کوردينات: ۵۱۵۲۷۲/۳۴-۱۱۷۴٦/٦۹

ټول هغه حقيقي او حکمي اشخاص چې غواړي پورته ذکر سوی دوکان په کرايه ونيسي کولای سي چې خپل غوښتنليکونه د (۱۴۰۳/ کب/ ۲۵ نېټې څخه د ۱۴۰۴/ حمل/۱٦) نېټې پورې د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست ته وسپاري او شرطپانه دې تر لاسه کړي.

آدرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مديريت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۴/ حمل/ ۱۷) نېټه، له غرمې مخکې د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړيکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-

افغان اعلانات

۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

اطلاعیه مفقودی

یک جلد نکاح خط شرعی نمبر ۴۱۹/۹٦۳ مورخ ۱۳۹۹/۵/۱۱ مرتبه محکمه وثایق حوزه دوم شهر کابل به اسم اختر محمد فرزند محمد قباد ولدیت همت خان و محترمه زرلشت بنت نصر الله ولدیت خان محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۷۷۹

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت مجوز حمل سلاح دارای شماره ۱۳۴۴۲۷۸۳۸ نوع تفنگچه مربوط محترم سهراب فرزند محمد رستم مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۹۷۷۱

اعلان داوطلبی

جمعیت هلال احمر افغانی در رابطه به اعمار تعمیرهای هلال احمر افغانی نمایندگی های (لوگر، سمنگان و فراه) مطابق مشخصات و نقشه ترتیب شده از جانب ریاست املاک و تعمیرات جمعیت هلال احمرافغانی به داوطلبی سپرده میشود. از شرکت های ساختمانی و تجارتی در قسمت فعالیت داشته باشند، درخواست های خویش را به آمریت تهیه ، تدارکات و قرار داد ها جمعیت هلال احمر افغانی واقع افشار سیلو بسپارند، خودشان بعد از نشر اعلان الی مدت (۱٤) یوم به مجلس داوطلبی مراجعه نموده و پول حق الاشتراک مبلغ (۱۰۰۰) افغانی نقدآ اخذ میگردد.

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه زوجیت خط شرعی محترم الماس فرزند سید اغا و محترمه معصومه بنت سید جلال مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند. ۹۷۷۰

اطلاعیه مفقودی

یک طغرا مهر مربوط مرکز خدمات مالیاتی محمدی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۷۸۷

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت مجوز حمل سلاح دارای شماره ۰۷۵۱۱۰۱ نوع تفنگچه تی تی مربوط محترم نورمل فرزند نور احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند. ۹۷۸۰

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت برادران یما هاشمی لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۴۲۲۸ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد ادریس فرزند محمد اعظم بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۷۸۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی مربوط محترم رفیع الله فرزند عبدالوهاب مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۹۷۸۵

درود به شهدای ۲۴حوت ...

بیست وچهار هزار تن بخاک و خون کشیده شدند.

امسال که قیام بر حق هرات وارد ۴۵مین سالگرد خود میگردد جای دارد یاد و خاطره آن شهداء و تمامی شهدای گمنام وطن که در مقابل جلادان و اهریمنان سینه سپر کردند و جان های عزیز شان را در راه عزت ،آزادی و استقلال کشور خود فدا نمودند گرامی داشته شود. اما آنچه در تجلیل از مقام شهداء و ایثارگران جهاد در برابر اشغالگران در حال حاضر مهم است و روح آنها را شاد میسازد، حراست از آرمانهای والای آن قربانیان وطن است که همانا حفظ ارزش های ملی و هویت ملی افغانستان را در بین جامعه ملل تثبیت میکند. لزوماً ما را در تعقیب راه شهدای جهاد بر حق مردم افغانستان و گرامیداشت شایسته از یاد آنها باورمند میسازد. ما سالروز قیام شکوهمند مردم هرات را با غرور و افتخار یادآوری مینماییم و به روان شهدای آزادی و استقلال وطن دعا می کنیم.

درود به روح شهدای ۲۴ حوت سال ۱۳۵۷خورشیدی و سایر شهدای جهاد بر حق مردم افغانستان .

د فتنو پېژندنه او ...

د رسنيو، تعليمي او فکري نظامونو د يرغل پر وړاندې ځانونه مجهز کړي او د اسلامي هويت د ساتلو لپاره منظم فکري، علمي او فرهنګي کار ترسره کړي.

د تشدد، تکفيري افکارو او افراطيت ستونزې

افراطيت او تکفيري تفکر د اسلامي امت د داخلي تفرقې، شخړو، او د مسلمانانو ترمنځ د اعتماد د کمزوري کېدو لامل ګرځي. خوارج، چې د اسلام په لومړيو کې راپيدا شول، د افراطي تعبير له مخې يې ځانونه يوازينی حق ګڼلو، مخالفين يې تکفيرول او د هغوی پر ضد يې وسلواله مبارزه مشروع بلله. د دوی دا طرز فکر د مسلمانانو د وينې تويېدلو، د اسلامي امت د تضعيف او د دښمنانو د ګټو د تأمين سبب شو. معاصرې تکفيري ډلې هم د خوارجو له همدې تفکر څخه الهام اخلي، د مسلمانانو پر ضد وسلې ته لاس کوي او د شريعت له واضح اصولو پرته په خلکو د ايمان او کفر ټاپې وهي. دوی د علم او بصيرت پر ځای احساساتو او شدت ته ترجيح ورکوي، د دين سخت تعبير وړاندې کوي او امت ته د عذاب او وېرجنتيا انځور ښيي. د اسلام معتدل دريځ، چې د قرآن او سنتو پر بنسټ ولاړ دی، دا ډول تندلاري افکار ردوي او د وسطيت، عدل او نرمښت لارښوونه کوي. د خوارجو له تاريخ څخه دا درس اخستل کېږي چې هر هغه تفکر چې د امت له بدن څخه ټوټې جلا کوي، مسلمانان تکفيروي او د تاوتريخوالي ترويج ته لمن وهي، اسلامي امت ته زيان رسوي او د مسلمانانو د داخلي ضعف سبب ګرځي. د دې ستونزې حل يوازې د علم، صحيح فکري روزنې او د اسلامي امت د حقيقي روحيې د معرفي کولو له لارې ممکن دی، ترڅو خلک د افراطي ډلو له ذهنيت څخه وژغورل شي او د اسلام اصل رحماني پيغام وپېژني.

د اسلامي ټولنې ثبات او د علماوو رول

د اسلامي ټولنې ثبات هغه مهال تأمينېږي چې خلک د دين صحيح فهم ولري، د شريعت له اصولو سره اشنا وي او د شرعي لارښوونو پر اساس خپل ژوند برابر کړي. ټولنه هغه مهال له داخلي فتنو، فکري انحرافاتو او اجتماعي ګډوډيو خوندي پاتې کېږي، چې ديني بصيرت عام شي او د علم لارويان خلکو ته د حقايقو وضاحت ورکړي. علماء، چې د امت فکري او روحاني مشران دي، د اسلامي ارزښتونو د ساتنې، د ناسمو نظرياتو د ردولو او د امت د فکري ثبات د تأمين مسئوليت لري. دوی بايد د قرآن، حديثو او د سلفو صالحينو د تجربو پر بنسټ خلکو ته واضح کړي چې حق څه دی او کوم افکار، ايډيالوژۍ او تحريکونه د اسلام له اساسي اصولو سره په ټکر کې دي. علماء بايد د امت د فکري رهبرۍ مسئوليت پر غاړه واخلي، د اسلامي تعليماتو د عاملو لپاره پراخې هڅې وکړي او د فتنو د مخنيوي لپاره علمي، منطقي او حکيمانه دريځ غوره کړي. د دوی وينا، فتواوې او لارښوونې بايد د خلکو د اتحاد، اخوت او اسلامي هويت د ساتنې وسيله شي، نه دا چې د تفرقې، نفاق او د امت د تجزيې سبب وګرځي. د اسلامي ټولنې ثبات هغه مهال ممکن دی چې علماء د ټولنې د معنوي رهبرۍ رول په سمه توګه ترسره کړي، د فتنو ريښې وڅېړي، د خلکو ذهنونه روښانه کړي او د اسلامي امت يووالی وساتي.

د امت د فکري بېدارۍ تګلارې

د فکري بېدارۍ لپاره اړينه ده چې تعليمي نصابونه د اسلامي اصولو پر بنسټ اصلاح شي، د عقيدوي او فقهي موضوعاتو تدريس ته پاملرنه وشي او د علمي بصيرت د پراخولو لپاره منظم پروګرامونه ترتيب شي. د اسلامي ټولنې د فکري رهبرۍ د پياوړتيا لپاره علمي بحثونه او فکري سيمينارونه بايد عام شي، ترڅو خلک د ناسم فکر له خطرونو خبر شي او د صحي عقيدې پر بنسټ خپله فکري ودانۍ جوړه کړي. رسنۍ، خطبې، کتابونه او ټولنيزې شبکې بايد داسې وکارول شي چې د مسلمانانو ديني پوهه ژوره شي، د فتنو د پېژندلو وړتيا يې لوړه شي او د اسلامي ارزښتونو د ساتنې لپاره يو موټی پاتې شي. که اسلامي امت د فتنو د مخنيوي لپاره د علم، بصيرت، اتحاد او د علماوو لارښوونو ته مراجعه وکړي، نو نه يوازې به د فکري انحرافاتو او د ايډيالوژيکي يرغلونو مخنيوی وشي، بلکې د امت د فکري ثبات او معنوي ودې لپاره به هم مؤثر ګامونه پورته شي.

پاکستاني چارواکي دې ...

وجود نه لري او نه يې هم پخوا يا اوس له اسلامي امارت سره اړيکې لرلې دي. د بهرنيو چارو وزارت په خبرپاڼه کې همدارنګه په ياده پېښه کې د بې‌ګناه انسانانو پر مرګ ژوبلې خواشيني څرګنده شوې او څرګنده، کړې يې ده، چې د سياسي موخو لپاره ملکيان قرباني کول د توجيه وړ نه دي.

د بهرنيو چارو وزير د عمان ...

د خپلو تجربو د شريکولو ترڅنګ په افغانستان کې د جوماتونو د جوړولو په برخه کې مرسته وکړي. ورته‌مهال د عمان سلطنت وزير ژمنه کړې، چې د افغان بنديانو د ښېښې زمينه به برابره کړي او د افغانانو دکونسلي خدماتو ستونزو ته د رسېدنې لپاره به لازمه همغږي وکړي .د عمان د سوداګرۍ او پانګونې خونې له مشرانو سره په ليدنه کې هوکړه شوې، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګريزې اړيکې پياوړې، پانګونې ته فرصتونه برابر او مستقيمې الوتنې پيل شي. د عمان د اوقافو او ديني چارو وزارت هم د افغانستان د ارشاد، حج او اوقافو وزارت سره د تجاربو شريکولو او همکارۍ ته چمتووالي ښودلی.

د يو بل خبر له مخې، د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي د عمان سلطنت د سوداګرۍ، صنعت او پانګونې وزير قيس بن محمد اليوسف سره په مسقط کې ليدنه کړې. په دې ليدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ، پانګونې او ترانزيټ پر لارو چارو خبرې شوې دي. ليدنه کې دواړو لوريو د افغانستان او عمان ترمنځ د سوداګريزو پلاويو او خصوصي سکټور ترمنځ پر تبادلې هوکړه کړې. همداراز دواړو لوريو د افغانستان او عمان ترمنځ د صادراتو او وارداتو پر پراختيا او د کرنې او خوړو پر خونديتوب سربېره پر سوداګريزې راکړه ورکړې او ټرانسپورټ هم د نظر تبادله کړې او هوکړه شوې، چې ګډ کاري ټيمونه او سکټوري اداري به د يادو برخو تخنيکي خبرې پيل کړي.

د واخان سړک د دويمې ...

بې برخې وو. ده څرګنده کړه، چې اسلامي امارت د واخان خلکو ته د غوره چوپړتياوو وړاندې کولو په موخه ګړندۍ هڅې پيل کړې دي. د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت سرپرست همدارنګه ووېل، چې دا سړک به د چين او افغانستان ترمنځ له ټولو لنډه، اسانه او ارزانه لاره وي او دواړو هېوادونو ته به پر غوره اقتصادي مسير بدل شي. نوموړي زياته کړه، چې که د ټولګټو وزارت په دې برخه کې همکاري وکړي، نو دغه سړک به په راتلونکي کې پر ترانزيټي لاره بدل شي. په ورته وخت کې د افغان صداقت شرکت رئيس غوث الدين ووېل، چې په ښه کيفيت او لنډ وخت کې د دغه سړک د جوړولو چارو د بشپړېدو هڅه به وکړي. د يادونې وړ ده، چې دواخان سړک دويم فاز ۷۱ کيلومتره اوږدوالی او له ۷ تر ۱۰ مترو پلنوالی لري او د ۱۴۳ميليونو افغانيو په لګښت رغول کېږي، چې مصرف يې د اسلامي امارت له بودجې څخه ورکول کېږي.

له افغانستان سره په بېلابېلو ...

په ښه نه دي، بلکې موږ هڅه کوو ،چې له افغانانو سره په بېلابېلو برخو کې همکاري وکړو.))جنک اونال افغانستان کې د ځينو ترکي بنسټونو فعاليتونو ته په اشارې زياته کړې ،چې ترکيه د بل هر هېواد په پرتله افغانستان کې حضور لري او له افغانانو سره همکاري کوي. کابل کې د ترکيې سفير ووېل: ((په افغانستان کې د ترکيې د ښوونې او روزنې بنسټ او نورې اداري لکه ټيکا، ترکش ايرلاين، سوداګريزې اداري او زموږ د سرې مياشتې بنسټ په افغانستان کې فعال دي او اوس ترکيه هغه هېواد دی چې له بل هر هېواده په افغانستان کې ډېر حضور لري.))دغه پروګرام کې د کابل ښار د پوهنې رئيس هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو او همکاريو د لا پراختيا هيله څرګنده کړه. عبدالباسط حقاني زياته کړه: ((د افغانستان د اسلامي امارت او ترکيې ترمنځ د ورورولۍ اړيکې بايد لا پراخې شي.))له دې وړاندې هم کابل کې د ترکيې سفير د بهرنيو چارو وزارت له سرپرست سره کتنه کې د ترکيې او افغانستان ترمنځ د ډيپلوماټيکو اړيکو د کچې لوړولو په برخه کې د خپل هېواد د هڅو ډاډ ورکړی و.

پکتيا کې د ۳پروژو چارې ...

هرکلی کړی او هيله يې څرګنده کړې، چې دا ډول پروژې به د ښار د پرمختګ، روغتيا او د چاپېريالي وضعيت د ښه والي لپاره ګټورې ثابتې شي.

هند د افغانستان ...

په هڅو کې د قزاقستان د فعال ګډون او ملاتړ يادونه وکړه. دواړو لورو د افغان - ټرانس دهليز په پراختيا کې د دواړو هېوادونو د ونډې پر اړتيا ټينګار وکړ.))په ورته مهال د اقتصاد وزارت هم د افغانستان، هند او قزاقستان ترمنځ د اقتصادي اړيکو د پياوړتيا خبر ورکوي. د دغه وزارت وياند ويلي: د افغان- ټرانس پروژې بشپړېدل او د چابهار بندر پراختيا د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د افغانستان د سوداګريزو اړيکو د پراختيا په برخه کې مهمه بولي. د اقتصاد وزارت وياند، عبدالرحمن حبيب رسنيو ته ويلي: ((چابهار بندر نه يوازې افغانستان له ايران او هند سره نښلوي، بلکې هېواد به مو د منځنۍ آسيا د هېوادونو او هند ترمنځ له خپل ټرانزيټي ارزښته پوره ګټه پورته کړي.))اقتصادي کارپوه عبدالنصير رښتيا په دې اړه وايي: ((افغانستان په وچه کې پروت هېواد دی او که چېرې د سيمې د رېلګاډې له شبکو سره ونښلول شي، نو کولی شو د خپلو صادراتي توکو لپاره نوي بازارونه ومومو.)) قزاقستان لومړني هېواد دی، چې د اسلامي امارت نوم يې د دې هېواد له تور نوملړه ايستلی او له تېرو درېيو کلونو راهيسې له اسلامي امارت سره ښې اقتصادي اړيکې هم لري.

هرات کې د ۲کورنيو ...

علماوو، قومي مشرانو او مخورو په هڅو پای ته ورسېده. ورته مهال ښکېلو کورنيو د دغې دښمنۍ په پای ته رسېدو خوښي ښودلې او د منځګړيو ارځونو له هڅو او بې پرې پرېکړې څخه يې مننه کړې ده. هغوی د اسلامي امارت هڅې ستايلي، چې د شخړو هوارولو لپاره بې ساري هڅې کوي او عادلانه پرېکړې ترسره کوي. د يادونې وړ ده، چې څه موده وړاندې هم د ياد ولايت په کشک کهنه ولسوالۍ کې د دوو قومونو ترمنځ ۷ کلنه دښمني د مسئولينو په منځګړيتوب حل شوې ده. باختر

د افغانستان او ايران ترمنځ ...

اروپايي توکي ورسوي.))ښاغلي ذکري دا هم ووېل: ((هره اوونۍ، لږ تر لږه له يوې څخه تر درېوو پورې اورګاډي له بېلابېلو سرچينو څخه، د ترکيې په ګډون له هند څخه د خلاصو اوبو له لارې ايران بندر عباس او له هغه ځايه افغانستان ته ننوځي او د اورګاډي له لارې افغانستان ته انتقالېږي.))د ايران د سړکونو او ښارې پراختيا مرستيال وزير هم په نږدې راتلونکي کې د دې لارې له لارې د اروپايي کارګو د لېږد په اړه ووېل: ((د بندر عباس دهليز کې د شمتيګ په لور د کانټينرونو لېږد روان دي او په طبيعي توګه، اروپايي او د سويل ختيځې اسيا هېوادونه هم له دې محور څخه کار اخلي.))

اسلامي امارت د افغان کډوالو ...

ميرمن موتيا مسکون د روان زېږديز کال لپاره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د نړيوال سازمان کاري پلان له مولوي عبدالکبير سره شريک کړي. نوموړې د افغانستان له ګاونډيو هېوادونو څخه په جبري ډول د افغان کډوالو پر ايستلو اندېښنه څرګنده کړې او يادونه يې کړې، چې د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو سازمان هڅه کوي افغان کډوالو ته اړينې نقدي او غير نقدي مرستې ورسوي. په افغانستان کې د کډوالو نړيوال سازمان مرستيالې زياته کړې، چې د کډوالو نړيوال سازمان همدارنګه هوډ لري څو له پاکستان څخه د کډوالو د نوې لړې له پيل کېدو وړاندې په پولو کې اړينې اسانتياوې رامنځته او د اغېزمنو مرستو رسولو په موخه د اسلامي امارت له اړوندو ادارو سره همغږي زياته کړي. مولوي عبدالکبير د کډوالو نړيوال سازمان پلاوي ته د ښه راغلاست پر مهال د افغان کډوالو لپاره د ايټاليا هېواد له وروستۍ مرستې ستاينه کړې او ويلي يې دي: په افغانستان کې د کډوالو او داخلي بېځايه شويو د لاسنيوي په برخه کې د ملګرو ملتونو بشري مرستې مهمې او اغېزمنې دي. نوموړي زياته کړې، چې اسلامي امارت په دايمي ډول د کډوالۍ ستونزو د حل هڅې کوي. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير د کډوالو لپاره د ښارګوټو د رغولو په برخه کې د اړوندو بنسټونو پر همکاريو او مرستو ټينګار کړی او زياته کړې يې ده، چې په جبري ډول له ګاونډيو هېوادونو څخه د افغان کډوالو را ايستلو په کور دننه د مرستې رسونې لړۍ ټکنۍ کړې ده.

جرمني شرکت له افغانستان ...

په دې غونډه کې ويلي، چې د غور-هرات او بادغيس-فارياب سړکونو د جوړولو پلان تر کار لاندې دی او د اسلامي امارت د مشرتابه له منظورۍ وروسته به د دې سړکونو د يوې برخې د جوړولو قرارداد له ياد شرکت سره وشي.

زابل کې د اداري کمپلکس ...

او کارونه به يې د يوه کال په موده کې بشپړ شي. د پلي کوونکي شرکت مسئولين ډاډ ورکوي، چې د ورکړ شوي بودجې مطابق به د اداري کمپلکس چارې پر وخت پای ته ورسوي. د زابل ولايت د مقام د اداري کمپلکس د جوړېدو چارې داسې مهال پيلېږي، چې د سږني کال له پيله په دغه ولايت کې د اسلامي امارت او نړيوالو مؤسسو له لوري ۱۱۳ رغنيزې پروژې پلي شوې دي.

د ميدان‌وردګو د پوهنې ...

او پر ملي سوداګرو او نړيوالو بنسټونو يې غږ وکړ چې په ياد ولايت کې د پوهنې بهير سره خپلې مرستې ونه‌سپموي.هېره دې نه وي چې له دې وړاندې د ميدان وردګو په مرکز او بهسودو ولسوالۍ کې يوشمېر سوداګرو په خپل شخصي لګښت له پوهنې رياست سره بېلابېلې مرستې کړې دي.

د امنيتي چارو او پولو ...

د مشرتابه د دفتر استازي او د کندهار د والي په شتون کې شوې ده. دغې ناسته کې د امنيتي چارو پر لا پياوړتيا، تصفيوي بهير کې پر دقت او روڼتيا، د نشه يي توکو پر ضد مبارزې، د جرمونو پر وړاندې دکوټلو ګامونو پورته کولو او د پولو خونديتوب په اړه هر اړخيز بحث شوي او د يادو موضوعاتو د لا ښه تطبيق په اړه لازمې پرېکړې شوې دي.

د بغلان د غوري سيمنټو ...

د بغلان د غوري سيمنټو فابريکو مسئولين وايي چې اوسمهال د دې کارخونو په بېلابېلو برخو کې ۷۰۰ تنه په درېوو کاري وختونو کې پر کار بوخت دي.

د افغانستان کرکټ بورډ ...

يو ورځنۍ او درې نړيوالې شل اوريزې سيالۍ شاملې وې. دغه سيالۍ د روان کال په اګسټ مياشت کې پلان شوې وې، خو د ايرلنډ کرکټ بورډ د مالي ستونزو له امله د روان کال لپاره په خپل کلني پلان کې نه دي شاملې کړي.

د سادات په خبره: د افغانستان دکرکټ بورډ اجرائيوي رئيس نصيب خان د ايرلنډ د کرکټ بورډ له اجرائيوي رئيس وارن ډوټرم سره د اړيکې نيولو په لړ کې ويلي دي چې د مالي ستونزو له امله سږ کال موږ کوربتوب نشو کولی، خو په راتلونکي ۲۰۲٦م کال کې يې د يادو سياليو د کوربتوب لپاره خپله لېوالتيا ښودلې ده. نو موږ د دوی مالي ستونزې درک کوو او له دوی سره په اړيکه کې يو، ترڅو د دغو سياليو لپاره داسې مهالوېش غوره کړو چې د دواړو لوريو لپاره مناسب او د منلو وړ وي او په ترڅ کې به يې دغه سيالۍ ترسره شي. د افغانستان کرکټ بورډ ژمن دی چې د کرکټ نړۍ له ټولو غړو هېوادونو سره ښې اړيکې وساتي او له ايرلنډ کرکټ بورډ سره له خپلو غوره اړيکو په ګټې اخيستنې سره هڅه کوي چې ياده لوبلړۍ بيا تنظيم او ترسره کړي. زيارمل هوتک

ايټاليا له افغانستان سره ...

د افغان کډوالو د جبري راستنېدو کچه مخ په زياتېدو ده. په اعلاميه کې راغلي: ((دا ۱۲ مياشتنۍ پروژه به د IOM هڅې پياوړې کړي، ترڅو د غير راجستر شويو راستنېدونکو بشري، د محافظت او روغتيا اړتياوو ته ځواب ووايي او موخه يې له ۲۵۰۰۰ څخه زياتو خلکو ته رسېدل دي.))د کډوالۍ نړيوال سازمان د معلوماتو له مخې، په ۲۰۲۴ کال کې، د کډوالۍ نړيوال سازمان له ۱.۳ ميليونو څخه ډېر افغان راستنېدونکي ثبت کړي، چې نږدې ٦۷ سلنه يې په زور راستانه کړای شوي دي. په افغانستان کې د کډوالۍ نړيوال سازمان د ماموريت مشرې، مايا پارک هم ټينګار وکړ: ((دا ملاتړ به له موږ سره مرسته وکړي، چې دې اړتياوو ته ځواب ووايو او هغه عوامل کم کړو چې د بيا بېځايه کېدو يا مهاجرت لامل کېږي. د منفي مبارزې د ستراتيژۍ په توګه.)) له دې وړاندې، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کميشنرۍ اعلان وکړ چې د جاپان حکومت د افغان کډوالو او راستنېدونکو د ژوند د ملاتړ لپاره شپږ ميليونه ډالره ځانګړي کړي دي.

روسيې د جګړې د پای ته ...

کړې دي. دوی زياته کړې: مسکو هغه غوښتنې وړاندې کړي،چې له دې مخکې يې، امريکا، اوکراين او ناټو سره شريکې کړې وې.

د روسيې په پخوانيو شرايطو کې راغلي چې کيف به د ناټو غړيتوب نه ترلاسه کوي اوکراين کې به بهرني ځواکونه نه ځای پر ځای کېږي او د کريميا ترڅنګ بايد څلور نورې سيمې هم روسيې ته ورکړل شي. په ورته مهال امريکا د اوکراين له لوري د ۳۰ ورځني اوربند د هوکړې منلو لپاره د روسيې ځواب ته په تمه ده. دغه اوربند د امريکا او اوکراين ترمنځ د خبرو پرمهال د ولادمير زيلنسکي له لوري وړاندې شوی دی.

ننګرهار کې نږدې ۴ ميليونه ...

مؤسسو په همغږۍ لسو ولسواليو کې ٦۵۱ جريبه ځمکه د مېوه لرونکو بڼونو لپاره ځانګړې شوې ده. سربېره پر دې، د طبيعي ځنګلونو لرونکو ولسواليو کې "د شنې قطعې" په نوم د پوليسو ځواک د خلکو په همکارۍ د ځنګلونو ساتنه کوي او د ونو د ناقانونه پرې کولو مخنيوی کوي. د يادونې وړ ده، چې د نيالګيو کېنولو هڅې له يوه لوري د چاپېريال ښکلا ډېروي او له بل لوري د کوکنارو او نورو ناروا کښتونو لپاره ښه بديل کېدای شي.

بهر ته د غوښې د صادراتو ...

خو شرط دا دی چې د څارويو نسل ته زيان وانه وړي. نوموړي زياته کړې، چې لومړی بايد د څارويو د توليد او پالنې پر زياتوالي تمرکز وشي، بيا د لوړ کيفيت صادرات تنظيم شي. د صنعت او سوداګرۍ وزير نورالدين عزيزي ويلي: بېلابېل هېوادونه له افغانستانه د غوښې اخيستلو ته لېوال دي. نوموړي ټينګار کړی، چې بايد د پسونو د روزنې کچه لوړه شي او د صادراتو مناسب شرايط برابر شي، ترڅو مالداران ښه عايد ترلاسه کړي. د خوراک او کرنې سازمان د مالدارۍ برخې مسئول ډاکټر لطف‌الله ننګ ويلي: افغانستان د چرګانو په ګډون شاوخوا ۴۳ميليونه څاروي لري او هر کال ٦.۷ ميلیارده ډالره عايد ترې ترلاسه کوي. نوموړي زياته کړې، چې جګړې، وچکالۍ او اقليمي بدلونونو د مالدارۍ فعاليتونه کم کړي دي. همداراز د کرنې وزارت متخصصينو او سلاکارانو د غوښې د صادراتو هرکلي کړی او وړانديز يې کړی، چې د صادراتو ترڅنګ بايد د مالدارۍ ستر فارمونه جوړ شي، څړځايونه ورغول شي، نوي نسلونه ترويج شي او د څارويو روغتيا ته جدي پاملرنه وشي. په پايله کې پرېکړه شوې، چې د غوښې د صادراتو او د څارويو د پالنې د ودې لپاره دې يوه هر اړخيزه طرحه جوړه او رياست الوزراء ته دې واستول شي.

د ولس ستونزو ته رسېدنه ...

بله خوا د لوګر نوي ګومارل شوي امنيه قومندان ملا اغاولي «نوراني» ووېل: د امنيت ټينګښت او د ولسونو ستونزو ته رسېدنه يې لومړيتوب دی. ده ووېل: ورکړ شوي مسئوليت يو امانت دی او هڅه کوي چې د خپلو امنيتي ځواکونو او ولسونو پرمټ يې په سمه توګه ترسره کړي. هېره دې نه وي چې د لوګر پخوانی امنيه قومندان مولوي محمدالدين شاه مخبت د هلمند د مرستيال قومندان په توګه ګومارل شوی دی.

افغانستان هېڅا ته ...

او د غلطو تورونو پر ضد مؤثرغبرګون.

اقتصادي خپلواکي: د اقتصادي انحصار ماتول، د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د سوداګريزو اړيکو پراخول او د کورنيو منابعو پر ځان بسياينه.

ملي يووالی: د داخلي اختلافاتو مخنيوی، د ټولو افغانانو ترمنځ يووالي ته کار کول او د هر هغه فکري، قومي يا سياسي خوځښت مخنيوی، چې د بې‌ثباتۍ لامل کېدای شي.

رسنيزه مبارزه: د نړيوالو تبليغاتو پر ضد قوي رسنيزه دفاع، د افغانستان مثبت تصوير وړاندې کول او نړيوالو ته د حقيقتونو ښودل.

افغانستان، چې له څلورو لسيزو جګړو وروسته د ثبات په لور روان دی، نه يوازې د خپلو خلکو لپاره، بلکې د سيمې او نړۍ لپاره هم د سولې او اقتصادي همکارۍ يو مهم فرصت رامنځته کوي. د تورونو، تبليغاتو او دسيسو پر ځای، نړيوال بايد د افغانستان د پرمختګ ملاتړ وکړي. که څوک واقعاً د سيمې د امنيت، ثبات او پرمختګ غوښتونکي وي، بايد د افغانستان نوې واقعيتونه ومني، نه دا چې د تېرو ناکامو تګلارو تکرار ته دوام ورکړي.

د اسلامي امارت مشرتابه بايد له موجودو فرصتونو ګټه واخلي، له نړيوالو سره متقابلې اړيکې وساتي او د افغانستان د بدنامولو دسيسې شنډې کړي. ځکه چې يو باثباته، پرمختللی او خپلواک افغانستان د ټولو په ګټه دی.

Hewad Daily

شنبه د رمضان المبارک ۱۵ مه ۱٤٤٦ق کال د۱٤۰۳ ل کال د کب ۲٥ مه د 2025م کال د مارچ ۱٥ مه

دورځپاڼو رئیس : انجنير عُزير «بريالی»
موبایل : ۰۲۰۲٥۲٦۳٤۰
آمر او مسئول مدير : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمدنظري
موبایل: ۰۷۸۸٥۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحيه، د المپيک څلورلارې، د حضوري چمن ختيځ، کابل افغانستان
داړيکو شمېره: س۰۲٥۲٦۳٤۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهيوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې ويب سايټ له لارې هم کتلی شئ
ويب سايټ: www.hewaddaily.com
دشکاياتو اوتوزيع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲٥۰۹-۰۷٦٦۰۴۴۹٦٦-۰۷۳٦۰٦۰۷۳

سږکال د ملي تدارکاتو کمېسيون ۲۵۲ پروژې منظورې کړې

د رياســتالوزراء اقتصــادي معاونيت وايي، چې په روان ۱۴۰۳ لمريز کال کې د ملي تدارکاتو کمېســيون لــه لوري، د شاوخوا ۷۴ ميلياردو افغانيو په لګښت، ۲۵۲ بېلابېلې پروژې منظورې شوې دي.
منظورې شــوې پروژې د افغانســتان د اسلامي امارت له بودجې څخه د زېربنا، ترانســپورټ، روغتيا، مخابراتو، برښنا، د اوبــو مديريت، صنعــت او پوهنې په ســکتورونو کې د هېــواد پــه بېلابېلو ولايتونــو کې پلې شــوې دي. هېره دې نــه وي چې د منظورو شــويو پروژو د تطبيق پر مهال زرګونو هېوادوالو ته په مستقيم او غيرمســتقيم ډول د کار زمينه برابره شوې ده.

امنيتي او تصفيوي کمېسيون:
د امنيتي چارو او پولو د خونديتوب په اړه لازمې پرېکړې وشوې

د امنيتي او تصفيوي کمېســيون چارو د مرکزي کمېسيون مسئول

د کندهار امنيتي کمېســيون سره ګډه ناســته کــې ځينــي لازمي پرېکړې کــړې دي. د امنيتي او تصفيوي کمېسيون د خبر له مخې دغه ناسته کندهار کې د ملي دفاع د وزيــر مولــوي محمديعقوب مجاهد په مشرۍ د کورنيو چارو وزارت د مرستيال ... ۳مخ

د بغلان د غوري سيمنټو فابريکې د توليد کچه ۷۰۰ ټنو ته رسېدلې

د بغــلان د غــوري ســيمنټو په کارخونو کې د تېــر په پرتله د

ســيمنټو توليدات او په ښارونو کې يې د پلور کچه په کمسارې ډول زياتــه شــوې ده. د بغلان د غــوري ســيمنټو فابريکــې رئيس انجنير شــفيع الله واحدي وايي، چې د مســئولينو په هڅو د دې کارخونــو توليــدات پــه ۲۴ســاعتونو کــې ۷۰۰ ټنو (۱۴ زره خريطــو) ته لوړ شــوي. په داســې حال کې چــې د دې کارخونو فعاليت د تېرې اداري پرمهــال پــه ۲۴ ســاعتونو کې يــوازې ۳۵۰ ټنــه و. د غــوري ســيمنټو فابريکې د ســيمنټو د خرڅلاو مدير ذبيــح الله وايي چې د غوري ســيمنټو د کيفيت په ښو کېدو سره په ورځ کې ۲۰ زره خريطې سيمنټ د هېواد په بازارونو کې پلورل کېږي چې دا د تېــرو وختونو په پرتله د پلور د کچې زياتوالي ښيي... ۳مخ

فراه کې د سيستان خياطي کارخونې توليدات ايران ته هم صادرېږي

د فراه ولايت د سيستان خياطي کارخونې مســئولين وايي، چې د دې کارخونــې توليــد شــوي لباســونه نه يــوازې د فــراه او ګاونډيو ولايتونــو بازارونو ته وړاندې کېــږي، بلکې ايران ته هم صادرېږي.
د کارخونــې مســئولې فريبــا شريفي باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، چې پر يادې کارخونې ۱.۶ ميليونه افغانۍ پانګونه شوې او پــه کــې ۶۰ کونــډې، بېوزلې او اړمنې مېرمنې په کار بوختې دي. شريفــي وايــي، چــې پــه دې کارخونه کــې د توليد ترڅنګ هــر کال ۲۰۰ تــر ۲۵۰ نجونې

د خياطــۍ زده کــړې کــوي او کارکوونکې مېرمنې د مياشــتې ۵۰۰۰ تــر ۱۲۰۰۰ افغانۍ عوايد هم ترلاســه کوي. د نوموړې په وينا، د يــادې کارخونې د خامو توکــو اړتيا د فراه لــه بازارونو پوره کوي او توليد شوي لباسونه يې د فــراه، هــرات، نيمروز او ايــران بازارونو ته صــادروي. بله خوا يوه مېرمن شــيدا، چې د شــپږو تنو سرپرستي لري، وايي چې د خياطي زده کړې له لارې هره مياشت ۵۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي او خپــل ژوند پرې پر مخ وړي. نوموړې د اسلامي امارت له مسئولينو او همکارو مؤسسو څخــه د پرمختللو وســايلو، د بېوزلــې طبقــې د لاســنيوي او د اړونــدو پــروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د افغانستان کرکټ بورډ د اېرلنډ پر وړاندې د ځنډول شوې لوبلړۍ د نويو نېټو پر ټاکلو کار کوي

د افغانســتان د کرکــټ بــورډ د وياند سيد نسيم ســادات له قوله د افغانستان کرکټ بورډ د ايرلنډ کرکــټ بورډ له هغــې پرېکړې چې د مالي ســتونزو له امله يې د افغانستان پر وړاندې خپله بشپړه لوبلړۍ ځنډولــې ده، خبر دي او هڅه کوي چې له سيال لوري سره د دغو سياليو لپاره نوي مهالوېش وټاکي.
د نومــوړي پــه وينــا: د دواړو لوبډلــو ترمنــځ دغــه لوبلړۍ د کرکټ نړيوالې شــورا د ۲۰۲۳-۲۰۲۷ کلونو د راتلونکو سفرونو د پروګرام برخه وه، چې پکې يوه ټېسټ، درې نړيوالې... ۳مخ

ایټالیا له افغانستان سره څه باندې ۳ میلیونه یورو مرسته وکړه

د کډوالــو نړيــوال ســازمان (IOM) اعلان وکــړ، چې ايټاليا په افغانستان کې د راستنيدونکو کډوالــو لپاره د بشري مرســتو د

ملاتړ په موخه ۳.۵ ميليونه يورو ځانګړې کړې دي. دغه سازمان يوه اعلاميه خپــره کړې او ويلي يې دي، چې د دې مرستې موخه لــه ګاونډيو هېوادونــو څخه د راستنېدونکو کډوالو ملاتړ دی. د کډوالۍ نړيوال ســازمان د دې مرستې رسول په داسې حال کې خورا مهم ګڼلي ، چې له ايران او پاکستان څخه ... ۳مخ

روسيې د جګړې د پای ته رسولو لپاره امريکا ته خپلې غوښتنې وړاندې کړې

رويټرز خــبري اژانــس د دوو سرچينو لــه قوله ويــلي، چې روسيې د جګړې د پای ته رسولو او له أمريکا سره د خپلو اړيکو د بيارغونې لپاره واشنګټن سره د خپلو غوښتنو يو نوملړ شريک کړې دي.
رويټرز وړمه ورځ په يوه راپور کــې ويلي: دا معلومــه نه‌ده چې مسکو د خپلو غوښتنو په نوملړ کې څه ځای کړي او په رښتيني توګه غواړي، چې اوکراين سره ســوله وکړي، که نه؟ د سرچينو په وينــا: امريکا او روســيې د تېرو درېوو اوونيــو پر مهال د يادو شرايطو په اړه مخامخ او په انلاين بڼه خبرې... ۳مخ

ننګرهار کې نږدې ۴ میلیونه نیالګي کېنول کېږي

د ننګرهــار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياســت مســئولين وايي ،چــې پــه راتلونکي کال کــې به پــه دغه ولايــت کې ۳ ميليونــه ۸۱۵ زره ۶۸۰ نيالګــي کېنول شي. د ياد رياســت رئيس مولوي محمد ولي محسن باختر اطلاعــاتي اژانس تــه ويلي، چې د اقليــم بدلــون سره د مبارزې، د چاپېريــال ســاتنې او د هېواد د اقتصادي پياوړتيــا لپاره به په راتلونکي پــسرلي کې ۳ ميليونه ۸۱۵ زره ۶۸۰ نيالګي کېنول شي. د نوموړي په وينا په يادو نيالګيو کې مېــوه لرونکي، غــير مېوه لرونکي، زينتــي او غير زينتي نيالګي تربيه شــوي، چې له دې ډلې يــې ۱۶۷ زره ۹۹۰ نيالګي د کرنې رياست په درېوو فارمونو کې او پاتې نور د کانال رياست او خصوصي ســکټور له لوري

چمتو شوي دي. نوموړي زياته کړې، چې اسلامي امارت له ۱۳۷ ميليونو افغانيــو بوديجې څخه په اســتفادې د ننګرهار شــپږو ولســواليو کې د موټيا ګلانو يو جريــب ننداريــزې قطعې هم جوړې کړې، چــې پرمټ يې د ګلونو کښــت ترويج شي. همدا راز، د همکارو ... ۳مخ

اعلان وزارت اطلاعات و فرهنگ

وزارت اطلاعــات و فرهنــگ به تعــداد (۱٦۰) قلــم داغمــه جات خويش را به تاريخ ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ در محضر هيئــت ذيربط با تنزيل ده فيصــد ليلام مينمايد اشــخاص موسســات شرکت های داخلی و خصوصی که خواهش خريداری آن را داشته باشند در خواستی شان را بر رياســت محترم مالــی و اداری مديريت عمومی محاســبه اجناس ايــن وزارت در چهارراهی ملک اصغر مقابل وزارت امور خارجه، تعمير اسبق وزارت دولت در امور پارلمانی بسپاريد مشخصات وسايط را ملاحظــه کــرده پانــزده فيصد تضمين طور پيــش پرداخت اخذ ميگردد.

د لوګر امنيه قوماندان:
د ولس ستونزو ته رسېدنه زموږ لومړيتوب دی

د لوګر لپاره نوی امنيه قوماندان ملا اغاولي نوري دکب په ۲۳مه

د يو لړ مراســمو پــه ترڅ کې معــرفي او خپله دنــده يې پيل کــړه. د لوګر پــه مرکز پل‌علم کــې پــه دې اړه جوړه شــوې غونــډه کــې د کورنيــو چارو وزارت او د لوګــر لوړوپوړو نظامــي او ملکــي مســئولانو ګــډون کړی و. جوړې شــوې غونــډې تــه د لوګر مرســتيال والي مولــوي محمدانــور دين پرور ووې: د اســلامي امارت د مشرتابه د حکــم له مخې، ملا اغا ولي «نــوراني» د لوګر نوی امنيه قوماندان ګومارل شوی او نن يې په رسمي توګه خپله دنده پيل کړه. نوموړي له نوي امنيه قوماندان څخه وغوښــتل چې د امنيت د ټينګښــت ترڅنګ د ولسونو ســتونزو ته هم جدي رسېدنه وکړي... ۳مخ

بهر ته د غوښې د صادراتو په اړه مشورتي غونډه وشوه

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزيــر مولــوي عطاءالله عمري او د صنعت او ســوداګرۍ وزير نورالديــن عزيــزي د غوښــې د صادراتو د ارزولو لپاره مشــورتي غونډه کړې. په دې غونډه کې د مالدارۍ د برخې رئيسانو، د کابل پوهنتــون اســتادانو، د مالدارۍ متخصصينو او ســلاکارانو او د خوراک او کرنې سازمان استازي ګډون کړی و. مولوي عطاءالله عمري ويلي: څه‌باندې ۸۰ ســلنه افغانــان پــر کرنــه او مالدارۍ بوخت دي او د غوښې صادرات ګټور ثابتېداي شي... ۳مخ